**ليکونکی : ريچارد دی اولف (Richard D.Wolff)**

**منبع اودخپريدو نيټه : کوتنر پانچ «2020-05-11»**

**ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سيد حسام «مل»**

--------------------[51]-----------------------------

# ډله ايز بيکاری د پانګوالۍ ناکامی ده

# Mass unemployment is a failure of capitalism



**عکس توسط خيابان ناتانيل Clair**

د (کرونا دويروس ) د پاند يمی په جريا ن کی د بيکاری ريکا رد کوم چی کارګرانو ته ستونزه رامينځته کړي دا پخپله د پانګوالي د نظام محصول دي ، ډير وختونه ددی نظام کار

ګمارونکي دخپل پوره ګټې دترلاسه کولو لپاره کله چې کارګران په کار ګماروي نو انتخاب دکارګما رونکو په لاس کې دي چې کارګران په کارګما ري یا داچي هغوی دسرما یه دار د زیات ګټې دترلاسه کولو لپاره په اورکي اچوي نو داهغه څه دي چې نه دکارګرانو بشپړپه کا رګمارنه اونه دتولید وسیلې د پانګوالې دګمارونکي، انتخاب دی ، کوم چې په دی توګه دپانګوالي «اخری یا لاندنی کربنه » ده ، نو دپا نګوالي سیستم همداسی کار ورکوی چې د پانګوالي هغه کارفرما یا نو ته ا نعام ورکوی چې د پا نګوالی ګټې لوړ کړی او هغو کارفرمایا نو ته جزا ورکول کیږی چې د پانګوالانو پوره ګټه لوړ نکړي ، نودغه موضوع نه داچي یواځي شخصی نه دی بلکه یواځی تجارتی دی .

له کار څخه دکارګرانو ګوښه کول یا اخراجول یو انتخاب دی چې ډیر وختونه اکثراً دکارګمارونکوله خواترسره کیږي ،دبیکاری په ډیر قضیو یا پیښو کی کارګمارونکو اختیار درلود چي کارګران دکارګمارنی په وخت کی په کار وګماری اوپه اور کی وانچوی یعنی چی کارګران له کار څخه ګوښه نکړي بلکه وسا تي ،اما هغوی په دی لټه کی دی چي دخپل کار ساعتونه اودکار ورځی کم کړی یا دخپل کار مها ل نورو ورځو ته بد له کړي همدارنګه کا رګمارونکو کولی شی انتخاب کړی چې بیکار کارمندان دمعاشاتو اود اجوری ورکول په لست کی وسا تی او له هغه څخه رامینځته شوی خسارات وزغمی او هغه هم دیو لنډ مها ل او ګذری وخت لپاره .

په هرصورت بیکاری تقریباً په هر ځای کي اوتقریباً ټول دیو منفی اونه غوښتونکي تجربی په بڼه ترلاسه کیدای شي ، کارګران دندی غواړي ، کارګمارونکو هغه کارمندان راغواړی چي هغوی ګټور محصول تولید کړي ، حکومتونه له ما لی څخه عا ید غواړي چی د کارمند ا نو او کار ګمارونکو څخه په فعا له توګه باید مرستی ترسره شی .

نو په هرصورت ولي د پا نګوالي سیستم هرمها ل اوبیا په تیرو دریو پیړیو کی هرچیری چي اقتصادی جوړ جاری شوی ، اقتصادی بحران رامینځته کړی دي ؟ کوم چي دا ډول بحران په اوسط ډول سره هر څلورو نه تر اووکالو کی راپیښیږي اوپه دی پیری کی تردی د مه متحده ایالات دری اقتصادی بحران یا دا ډول پیښی سره لاس په ګریوان شوی دي داټ کم (dot.com) په کا ل (2000) کي ،**سب پریم مارټګګ** (sub-prim martgage) [دفرعی پریم مارت ګګ دکور یا دمسکن پور دي چي پور ورکونکو داعتبا ر د سا بقی په ځانګړتیا لرلو سره پور ورکول کیږي اوداځکه چي اکثراً هغوی داعتبار هیڅ سابقه نه لری اودهغوی اعتباری نمری هغو ته اجازه نه ورکوی چي په نورما ل اومعمولی بڼی سره پور تر لاسه کړي ...... **تفصیل ددی قلم پواسطه سره** ] بحران په کال (2008) کي اواوس په (2020) کي د (کرونا ویروس) په راتګ سره بحران دی . نو په دی توګه متحده

ایالات دپا نګوا لي ( نورم) سره په همغاړیتوب یا تطا بق کی قرار لری . سرمایه داران بیکاری نه غواړی اما دوی په منظم ډول بیکاری رامینځته کوی ، دا ځانګړتیا یا کرکتر ددی سیستم لمړنی اساسی تضا د دي .

دلته یو لړ ښه دلیلونه شتون لري چي ولی پانګوالي دوخت په تیرید و سره تکرار په تکرار بیکا ری یا بی روزګاری را مینځته کوي ؟ له دی کړنی څخه ګټه ( او همدارنګه زیان یا خساره سره مخ کیږي ) ترلاسه کوي ، له سره بیا ( د بی روزګارو یا دبیکارانو داردو زیرمه ) تولید یا با ز تولید د پا نګوالی د دوری یا د سیکل دزیا تیدو موجب کیږي یا دبی روزګارانو دسا تنی داردو زیرمه، بیا له سره رامینځته کید نه په سرمایه ګذاری کي دوره ای پرمختګ ته زمینه برابروی ترڅو چي ډیر کارمندان پرته له دی چی د هغوی اجوره زیا ته کړ شی جذ ب کړی٠ که چیری دغه ډول کارګران مخکی له دی د بشپړد ند و یا دشغل خاوندان وه نو داجوری زیاتوالی اوپه دی ډول دسود را کمښت دپانګوالي دزیاتوالی موجب ګرځی اوبیکاری پخپله کارګره طبقه را تنظیموی .

بیکار کارګران چي هغوی اکثراً دکارد تر لاسه کولو لیوالتیا لري اودبیکاری څخه ناهیلی دي ، کارفرمایانو ته دا ډول امکانات ورپه برخه کیږي چي موجوده کارګران یعنی په کار اودندی مشغول کارګران د نوما ند وګارګرانو یعنی هغو کارګرانوچی د لږوساعتونو یا غیر ثابت او نه دایمی کار او دندی ته زیات لیوالتیا لری ځای پر ځای یا تعویض کړي، نو په دي ډول بیکاری دیو فشار په بڼه داجوری (دستمزد) په را ټیټولو کی دلیدو وړ یوه کړنه ترسره کوي .او په دي ډول د سود یا د ګټی دډیروا لی سبب کیږي . نو په لنډ دول سره ویلی شو چي سرمایه داری هم بیکاری یا بی روزګاری غواړي او هم نه غواړي . نو دا په دوامدار توګه سره دبیکارانو داردو په شمیره کی د اضا فی شمیر کارګرانو د بی کارولو جریان مخ ته وړی یا داچی د بیکا رو کارګرانو ددی حا لت په سا تنه کی هڅه کوی اوپر کارګرانو با ندی خپل فشا ر سا تي.

هغه د کارګرانو ذخیروی یا پا تی سا تل شوی مخفی اردو یو بشپړ حقیقت را څرګندوی او هغه دا چي دغه دکارګرانو داردو ایدیولوژیکي ځلانتیا نه مکدر کیږی یعنی چی په هیڅ دول سره هیڅ ځواک په بشپړه بڼی سره دهغوی ایدیولوژی له مینځه وړی نشي سره ددی چی بیکاری د پانګوالي په چوپړ کی دی او دټولنی سره کومه مرسته نه کوي ، ځکه چي بیکاری ډیر زیات داقتصاد څرخ ته تاوان رسوی . لکه نن ورځ دغه اسا سی تفا وت یا حا لت په مشهود بڼی سره بلکل څرګند اوپه رڼو سترګو لیدل کیږي ،داسی په نظر ونیسی چي نن په ملیونونو بیکارو خپل زیات د خرڅ یاد مصارفاتو پیسي دتولید د دریدو یا دتوقف له امله دلاسه ورکوی اوخپل دمصرف یا دژوند داحتیاجاتو دترلاسه کول لپاره دټولنیز تولید

کړ شوی شتمنی څخه اخلی یا ترلاسه کوی یعنی چی دوی نور نه تولید کوی اونه هم په دي توګه دکارګمارولو په وخت کي په ورته ډول د دولت دټولنیز په زیرمه کی څه شی اضا فه کوي .

نو په دی اسا س بیکاری خپله دی حا لت ته را کاږي یا چي بیکاری ددی ایجاب کوی چي ذخیروی شتمنی له سره وویشل شي. یعنی د تولید کړ شوی شتمنی هغه برخه کوم چی دهغو کسا نو پواسطه سره چی لا اوس هم په کار بخت دی با ید چی دهغو څخه لیری یا په له هغو څخه په بیکارانو با ندی وویشل شي ، اود توزیع کړ شوی شتمنی ما لیا ت با ید په عمومی بڼی سره ترسره کړ شی ،کارمندان ، کارګران ، کار ګمارونکو اودپانګي مبارزه دهغو د ما لیا تو په اړه چی د بیکارو کارګرانو د خرڅ یا داحتیاجا تو تا مین کونکي ممکن اووسي ، د بیا له سره ویش په دی ډول مبارزه کي اکثراً دتریخ ټولنیز بی اتفا قی درامینځته کیدو سره مل وي اود کورنی په حوزه یا حرم کی ښاغلو کوم چی په کار یا دنده کی بخت دی نو دهغو دترلاسه کړ شوی عوایدو یوه برخه هم توزیع کیږي ترڅوچی دهغه پیسو څخه بیکارانو ته په لاس رسی وشی کړلی چی خپل مصا رف تامین کړی کوم چی په دی ویش کی دغه اشخاصو شامل کیږي لکه دکارکونکو میرمنی ، مور وپلار ، بچیا ن ، قومونه ، ملګری او ګاونډ یان . کارګری طبقه ټل خپل شتمنی یا دخپل کار دتولید په روند کی ترلاسه کړ شوی عواید د بیکاری پانګوالي سره مبا رزه کوی کوم چي په منظم ډول پر دوی یعنی پر کارګرانو باندي په عموم کی تاثیر اچولی دي کوم چی دا ډول ویشنه یا توزیعات پر کارګری طبقه کی دیولږ رنځونو اود جنجا لونو لامل شوی دي .

عامه او خصوصي بیا رغونې د ډیری یا دزیا تو مبارزو څخه مخنیوی کولی شی د مثا ل په توګه ، ; که چیری عامه بیا ګمارنه د خصوصي بیکاري ځای په ځای کړي. یا تش ځای ډک کړي که چیرې دولت د وروستي استوګنځای مستعار شي ، نو د خصو صي ګمارونکو لخوا ګوښه شوي بیرته د دولت لخوا سمدلاسه راستنید ل کیدی شي ترڅو ټولنیز ګټور کار وکړي .حکومتونه به د بې کا رۍ ګټو تا د یه بنده کړي او پرځای یې بیا ګما رل شوي کارګرانو ته معا شا ت ورکړي ، په بدل کې ریښتیني توکي اوخدمات ترلاسه کړي او خلکو ته یې وویشي. د ( 1930) نوي ډ یل (New Deal) په حقیقت کې هغه څه وکړل چې د خصوصي کار ګمارونکو لخوا ګوښه شوي ملیونونو لپاره ډ خصوصي پانګوالی کارموند نې او بیکاري لپاره ورته بد یل(چی مګرد نوي ترون برخه نه وي) به دبیکارانو کارګمارونکي شرکت ته تنظیم کړ چې د دولت سره د قرارداد په برخه کې ټولنیز ګټور کا ر کوي.

دا وروستی بدیل ترټولو غوره دی ځکه چې دا کولی شي د متحده ایالاتو د اقتصاد نوی کارګاه کوونکی سکټور ته وده ورکړي. دا به د متحده ایالاتو خلکو ته د کا ري شرایطو ، د

محصول کیفیت او نرخ ، مد نـي مسؤ لیت ، او نورو شرایطو کې د کا رګمارونکي سکتور سره د پا نګوال سره په پرتله کولو مستقیم تجربه چمتو کړي. پدې کا نکریټ ، امپراطوری اسا س ، ټولنې خلکو ته واقعیا وړاند یز کولی شي ، د دموکراتیک انتخا ب په اړه چې د اقتصاد کوم ډول پانګوالي او کا رګر – همکا ر سکټورونو کې دوی غوره کوي .

---------------------------------- **په درناوی «13-05-2020»**